مؤسس: عبدالرووف بېنوا
تأسیس کال: ۱۳۲۸ لمریز

هیواد
ورځپاڼه

سه شنبه | ۲۱ / محرم الحرا م / ۱٤٤٨ هـ ق | ۱۶ / چنګاښ / ۱۴۰۵ هـ ش | 2026/JULY/7 م | خصوصي ګڼه: ۷۹ مه | پرله پسې ګڼه: ۱۰۵۰ مه | دوره: اتمه

بهرني سيلانيان:

د افغانستان حقيقت د منفي تبليغاتو خلاف دی

يو شمېر بهرنيو سېلانيان، چې افغانستان ته راغلي وايي: د افغانستان حقيقت له هغو منفي انځورونو سره توپير لري، چې له هېواده بهر ورته وړاندې کېږي. دغه ۱۴ سېلانیان د ماليزيا د «لنډن بايکرز» د شاوخوا ۲۰۰ کسيزې ډلې غړي دي. دغه ډله په ۲۰۰۳ کال کې جوړه شوې او له کلونو راهيسې د نړۍ بېلابېلو هېوادونو ته د موټرسايکلونو په وسيله ګرځي. دا ځل يې افغانستان د سفر لپاره غوره کړی؛ هغه هېواد چې د دوی په وينا، بايد له نږدې وپېژندل شي، نه د روايتونو له لارې.

د «لنډن بايکرز» د ډلې مشر، انور، وويل: «موږ غواړو نور خلک هم افغانستان ته سفر وکړي او دا هېواد له نږدې ووينې؛ ځکه افغانستان بډايه تاريخ، ارزښتمن کلتور او نړۍ ته د ويلو ډېرې کيسې لري. همداراز، غواړو د افغانستان په اړه منفي ذهنيتونه له منځه ولاړ شي.» ورسره هممهاله، د اماراتي افغان تور شرکت مسؤلين وايي: د ګرځندوی صنعت نه یوازې د طبيعي او تاريخي جاذبو په معرفي کولو کې مهم رول لري، بلکې د اقتصاد په پياوړتيا، د کاري فرصتونو په رامنځته کولو او نړۍ ته د افغانستان د ريښتيني څېرې په معرفي کولو کې هم اغېزناک دی. د افغان تور شرکت اجرائيوي رئيس، محمدنبي بها، وايي: «افغان تور شرکت ژمن دی چې د ګرځندوی د ودې او د سياحتي شرکتونو د ملاتړ لپاره نوې لارې رامنځته کړي، ترڅو په هېواد کې د ګرځندوی سکتور لا ښه شي.» په دغو مسافرو کې د انګلستان او استراليا ګرځندويان هم شامل دي چې وايي: افغانستان يې له هغه څه سره چې په رسنيو کې يې ليدلي وو، ډېر توپير لري. له انګلستانه راغلې ګرځندويه، ايملي، وايي: «په لوېديځو هېوادونو کې د افغانستان په اړه ډېری هغه څه چې اورو، د خبري راپورونو ...

۲مخ

سږکال د کانکور ازموينو له لارې څه باندې ۷۴ زره زده کوونکو لوړو زده کړو ته لار پيدا کړې

پرون دوشنبه د ازموينو عمومي اداري مسؤلينو د حکومت د اطلاعاتو او رسنيو په مرکز کې د خبري غونډې په لړ کې د ۱۴۰۵ کال د کانکور ازموينې پايلې د رياست الوزراء اداري مرستيال، د دې اداري چارواکو او اسلامي امارت مسؤلينو په شتون کې اعلان کړې. د سږکال د کانکور ګډونوال نږدې ۱۲۰ زره تنه وو، چې له دې ډلې ۷۴ زره او ۵۰۰ تنه زده کوونکي لوړو زده کړو ته لاره پيدا کړې ده. په دې اړوند د رياست الوزراء اداري مرستيال مولوي عبدالسلام حنفي وويل: د خوښۍ ځای دی چې د زده کوونکي د يو عمر خواريو پايلې ترلاسه کوي، دوی د ستونزو په زغملو سره د کانکور په ازموينو کې ګډون وکړ، چې د ازموينو عمومي اداري له لوري په منظم ډول اخيستل شوي او بريالی توکه يې ازموينې تېرې کړې ...

۳مخ

ترکيه:

د افغانستان د ثبات او پرمختګ لپاره خپلو همکاريو ته دوام ورکوو

په کابل کې د ترکيې سفير، سادين ای‌يلديز، د کندهار له والي ملا محمد شيرين اخند سره ليدنه کړې ده. اړيکو او دوه اړخيزو همکاريو د لا پراختيا پر اهميت ټينګار وکړ. نوموړي له ترکيې وغوښتل، چې په

د کندهار ولايت مقام د رسنيو دفتر ويلي: په دې ليدنه کې د کندهار والي د افغانستان او ترکيې ترمنځ د دوستانه کندهار او نورو لرې پرتو سيمو کې د روغتيايي خدمتونو د پراختيا، د کرنې سکتور د پياوړتيا ...

۲مخ

سرليکنه

شفاف کانکور، روښانه راتلونکی

د کانکور د پايلو ورځ د زرګونو افغان ځوانانو لپاره د خوښۍ، هيلو او نوې لارې د پيل ورځ ده. هره بريا د اوږدو هڅو، بې‌خوبيو او پرله‌پسې زحمتونو پايله وي. الحمدلله، د سږني کانکور پايلې اعلان شوې او هر هغه ځوان چې په اخلاص يې درس ويلی، زحمت يې ايستلی او خپلې موخې يې تعقيب کړې، د خپلو هڅو ثمره يې په خپلو سترګو وليده. دا ورځ يوازې د نومرو اعلان تر څنګ د استعداد او هڅو د ارزښت څرګندونه هم ده.

د ازموينو د عمومي ادارې مشر، شيخ عبدالباقي حقاني، د پايلو د اعلان پر مهال ټينګار وکړ چې افغانستان هم ديني علومو ته اړتيا لري او هم عصري علومو ته. د هغه په وينا، نننۍ نړۍ د علم، تخصص او مسلکي وړتياوو پر بنسټ پر مخ روانه ده او که افغان ځوانان په دې برخو کې پياوړي شي، هېواد به له احتياج، اقتصادي کمزورۍ او د نورو له فشارونو څخه په اسانه ځان وژغوري.

د سږني کانکور يوه مهمه ځانګړنه شفافيت و. د ازموينې له پيل څخه تر پايلو پورې ټول بهير په داسې ډول مديريت شو چې هر زده‌کوونکی د خپلې پوهې او وړتيا له مخې وارزول شو. الحمدلله، هغه ستونزې چې پخوا به د فساد، واسطو او بې‌عدالتۍ له امله د خلکو د اندېښنې سبب کېدې، د امارت په راتګ سره له منځه تللې دي. اوس هر څوک پوهېږي چې د ازموينې پايله د هڅې، استعداد او چمتووالي له مخې ټاکل کېږي، نه د اړيکو او نفوذ له لارې.

دې شفافيت يوازې د کانکور اعتبار نه دی لوړ کړی، بلکې د ځوانانو باور يې هم پياوړی کړی دی. چې يو زده‌کوونکی ډاډه وي چې حق به يې ضايع نه کېږي، نو په لا ډېرې مينې درس وايي، خپل وخت په زده کړو لګوي او د راتلونکي لپاره سترې هيلې له ځانه سره پالي. همدا باور د يوې سالمې علمي ټولنې د جوړېدو لپاره مهم ارزښت لري.

علم د ملتونو د پرمختګ تر ټولو ستره پانګه ده. هغه هېوادونه چې نن په اقتصاد، صنعت، روغتيا، ټکنالوژۍ او دفاع کې مخکښ دي، دې ځای ته د خپلو علمي کادرونو او متخصصينو په مټ رسېدلي دي. افغانستان هم له همدې لارې کولی شي خپلې طبيعي زېرمې په سمه توګه وکاروي، اقتصادي ځواک پياوړی کړي او د نړۍ له ملتونو سره د برابر تعامل ځای خپل کړي.

د افغانستان اسلامي امارت په وار وار د علم، تخصص او مسلکي کادرونو پر اړتيا ټينګار کړی دی. د ازموينو د عمومي ادارې د بهير شفافيت، د کانکور د ګډونوالو د شمېر زياتوالی او د اسانتياوو پراخېدل دا څرګندوي چې د هېواد د علمي ودې لپاره عملي هڅې روانې دي. هغه تبليغات چې ګواکې د علم او عصري زده‌کړو پر وړاندې به خنډونه جوړېږي، د روانو واقعيتونو په وړاندې خپل وزن له لاسه ورکوي.

د کانکور بريالي ځوانان د افغانستان د راتلونکي ډاکټران، انجنيران، استادان، اقتصادپوهان، څېړونکي او متخصصان دي. پر دوی پانګونه د هېواد پر راتلونکي پانګونه ده. هر څومره چې علم، څېړنه او تخصص پياوړی شي، هغومره به افغانستان د پرمختګ، ځان‌بسيا او ملي عزت پر لور چټک ګامونه واخلي.

فطرت:

له ۸۲ زره ډېر راستانه شوي ماشومان ښوونځيو ته معرفي‌شوي

د اسلامي امارت د وياند مرستيال وايي، د ۱۴۰۴ ښوونيز کال له پيله راهيسې تر اوسه له ۸۲ زره ډېر راستانه شوي ماشومان د سويې د تثبيت له ازموينې وروسته ښوونځيو ته معرفي شوي او هڅې روانې دي چې هېڅ ماشوم د کډوالۍ يا اقتصادي ستونزو له امله له زده‌کړو بې‌برخې نه شي ...

۲مخ

مولوي محمد يعقوب مجاهد د شهيد مولوي محمد امين (رح) له دارالعلوم څخه ليدنه وکړه

د دفاع وزير مولوي محمد يعقوب مجاهد شمال ختيځ بدخشان ته د خپل سفر په ترڅ کې، په داسې حال کې، چې د وسلوال پوځ لوی درستيز قاري محمد فصيح الدين فطرت يې ملتيا کوله، په وردوج ولسوالۍ کې د شهيد مولوي محمد امين (رح) دارالعلوم څخه ليدنه کړې. د دفاع وزارت وايي، چې د دې ليدنې پر مهال مولوي محمد يعقوب مجاهد د ياد دارالعلوم له مسؤلينو، استادانو او زده کوونکو سره ليدنه کړې او د

هغوی ستونزې او وړانديزونه يې اورېدلي دي. همدارنګه نوموړي د ديني زده کړو د پياوړتيا، د علمي کچې د لوړولو او د اسلامي او ملي ارزښتونو د ساتنې پر اهميت ټينګار کړی. ښاغلي مجاهد د ديني علماوو او مدرسو رول د ټولنې په فکري او اخلاقي روزنه کې مهم بللی او ډاډ يې ورکړی، چې اسلامي امارت به د ديني مدرسو د پرمختګ او ملاتړ لپاره خپله همکارۍ دوامداره وساتي. په ورته مهال مولوي محمد يعقوب مجاهد او مل پلاوي ...

۲مخ

د توريزم او هوټلدارۍ انسټيټيوټ او افغان تور اماراتي شرکت ترمنځ د همکارۍ هوکړه ليک لاسليک شو

د افغانستان اسلامي امارت د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ګرځندوی، مالي او اداري د معين مولوي قدرت الله جمال، د وزارت د ګرځندوی د څېړنې او پراختيا د رئيس مولوي محمد صادق صداقت او د افغان تور اماراتي شرکت د رئيس محمد نبي بهاء په حضور کې؛ د توريزم او هوټلدارۍ انسټيټيوټ د امر مولوي محمد زمان ناصري او د افغان تور اماراتي شرکت د استازي نور محمد حسن خېل له لوري د دوه اخيزې همکارۍ هوکړه ليک لاسليک شو.

د دغه هوکړه ليک د لاسليک کولو موخه د علمي، ښوونيزو او مسلکي وړتياوو لوړول، د عملي زده کړو او کار زده کړې له لارې د کارکوونکو د مسلکي مهارتونو پياوړتيا، د تجربو او تخنيکي پوهې شريکول ...

۲مخ

د افغانستان او ازبيکستان ترمنځ د وسپنې پټلۍ له لارې سوداګريز انتقالات نږدې دوه برابره زيات شوي

د ازبيکستان د وسپنې پټلۍ مسؤلين وايي: د روان کال په لومړيو پنځو مياشتو کې د افغانستان او ازبيکستان ترمنځ د وسپنې پټلۍ له لارې له ۴۱ زرو ډېر واګونونه لېږدول شوي، چې د تېر کال د همدې مودې پرتله نږدې دوه برابره زياتوالی ښيي. په دغو واګونونو کې څه باندې ۲.۷ ميليونه ټنه توکي لېږدول شوي دي. د تېر کال په ورته موده کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د وسپنې پټلۍ له لارې ۲۰ زره او ۴۱۵ واګونونه توکي لېږدول شوي وو. د ازبيکستان د سرخان دريا د وسپنې پټلۍ اداري مرستيال، شهرت قادروف وويل: «د ۲۰۲۵ کال په لومړيو ...

۲مخ

پنجشېر کې د دوه نورو قيمتي ډبرو د را ايستلو چارې پيل شوې

د پنجشير د کانونو او پټروليم رياست خبر ورکړی چې په دې ولايت کې د دوه نويو قيمتي ډبرو ګارنټ او تورمالين د استخراج چارې پيل شوې دي.

د ياد ولايت د کانونو او پټروليم رئيس مولوي محمد قاسم اميري ويلي، چې د ګارنټ منرال استخراج په عنابې ولسوالۍ او تورمالين استخراج د حصه اول په ولسوالۍ او مرکز بازارک کې پيل شوې دي.

نوموړي زياته کړې، اوس مهال په دغه ولايت کې د زمردو سربېره د درې ډوله نورو قيمتي ډبرو د استخراج چارې روانې دي، چې پکې بيروج، شين ګارنټ او تورمالين شامل دي.

د سيمې يو شمېر اوسېدونکي وايي، د کانونو د استخراج زياتوالي په ځانګړي ډول د زمرد استخراج د کار فرصتونه زيات کړي او دا د اقتصادي ودې پر ګراف مثبت اغېز کوي.

پامير کې د چين تر پولې د سړک جوړونې چارې وروستي پړاو ته رسېدلي

د بدخشان د واخان ولسوالۍ د بروغيل له سرحد څخه د چين تر پولې پورې د پامير خُرد سړک د جوړولو چارې ۸۰ سلنې بشپړې شوې او په راتلونکو نږدې دوه مياشتو کې به ګټې اخيستنې ته وسپارل شي. د دغې پروژې قراردادي افغان صداقت شرکت مسؤلين وايي، چې دغه ۱۲۱ کيلومتره سړک چې په دوو پړاوونو کې پيل شوی چې پر مټ به يې افغانستان له چين سره ونښلول شي. د شرکت د مسؤلينو په خبره، د دې پروژې لومړی پړاو ۵۰ کيلومتره اوږدوالی او ۷ متره پلنوالی لري چې په وينا يې، د پلان له مخې به د دواړو فازونو چارې تر شاوخوا دوو مياشتو بشپړې شي. د دې شرکت رئيس محمد اسماعيل بدر وايي، دغه

پروژه کې جغل اچونه ...

۲مخ

طلسمی که دیگران از شکستن آن هراس داشتند

احمد شاکر ضربي

همه ساله در فصل محصولات زراعتی و میوه های تازه، گذرگاه های تجاری میان افغانستان و پاکستان به بهانه های واهی و بی اساس، توسط قوای سرحدی پاکستان، مسدود و حاصلات و پیدا وار زراعتی و میوه های تازه کشور ما در عقب دروازه های این گذرگاه ها، فاسد می گردید.

اما برعکس در فصل میوه های تازه کشور جنوبی ما پاکستان ، هیچگونه ممانعتی، نه تنها که صورت نمی گرفت، بلکه پیداوار زراعتی به ویژه میوه های تازه شان به قیمت گزافی در مارکیت ها و بازار های کشور به فروش می رسید. معضلی که هیچگاهی زمامداران نظام های گذشته به آن اندک توجهی نمی کردند و از پهلوی آن سطحی می گذشتند.

اما در نظام کنونی به این معضل نه تنها که رسیدگی شد، بلکه بنادر و بازار های جدید و مطمئن ی نیز جستجو گردید تا تجار ما را، از وابستگی به یک بندر و یک راه ترانزیتی، رهایی بخشد.

اقدامی که خود تعهد و مسؤولیت پذیری مسوولان نسبت به کشور و مردم را به نمایش می گذارد.

امارت اسلامی با درک از واقعیت های میدانی و عینی افغانستان تلاش کرد تا در راستای سهولت های تجاری، رشد تولیدات داخلی، صادرات و واردات محصولات تجاری و زراعتی، همچنان رشد اقتصاد کشور راه های بدیل ترانزیتی و بنادر تجاری جدیدی را جستجو کند و طلسمی که دیگران نتوانستند، آنرا بشکند و برای کالا های صادراتی و وارداتی ، راه بدیلی جستجو کنند.

اما امروز این تلاش ها به ثمر نشسته و چند پیش وزارت صنعت و تجارت از ازدیاد حجم تجارت با کشور های آسیای میانه خبر داد و گفت که آمار تازه تجارت افغانستان با کشور های آسیای میانه، نشان می دهد که حجم مبادلات در سال ۲۰۲۵ میلادی نسبت به سال ۲۰۲۴ رشد قابل توجهی داشته است و به دنبال آن، وزارت صنعت وتجارت از طرح صادرات دو هزار تن میوه تازه افغانستان در سال جاری به بازار های اوزبیکستان، روسیه و کشور های اروپایی نیز خبر داد وهمچنان تاکید نمود که یکی از شرکت های اوزبیکستانی اعلام آمادگی کرده که میوه های تازه افغانستان را بعد انتقال به اوزبیکستان به بازار های روسیه و کشور های اروپایی صادر می کند و حالا گزارش ها، حاکی از آن است که صادرات افغانستان با کشور های آسیای میانه، جمهوری اسلامی ایران، عربستان سعودی، قطر، ترکیه و هندوستان رو به افزایش است و در تعقیب این دستاورد ها به تازگی مسوولان در ریاست زراعت و آبیاری و مالداری ولایت قندهار می گویند که در جریان سال جاری ۱۸۲ هزار و ۳۸۱ متریک تن میوه تازه و خشک به ارزش ۴۲۸ میلیون و ۸۶۳ هزار دالر از این ولایت به کشور های مختلف جهان صادر شده است.

به باور مسوولان میوه های قندهار به کشور های هند، قطر، روسیه، چین، امارات متحده عربی، انگلستان، مالیزیا، کانادا، ترکیه، عراق، بنگلادش، و شماری دیگر از کشور ها صادر شده و صادرات میوه های تازه همچنین ادامه دارد. روی این اساس باید گفت که جستجوی راه های بدیل و بنادر متعدد نظر به موقعیت جیوپولتیک افغانستان، یک اقدام بجا و در عین حال منفعت زا بوده، افغانستان را در میان مدت به شگوفایی و توسعه اقتصادی می رساند.

بنابرین ادامه این روند، علاوه بر افزایش صادرات محصولات زراعتی، صنعتی و میوه های تازه و خشک به کشور های منطقه و جهان، نقش مهمی در رشد و شکوفایی اقتصادی کشور نیز دارد و در پهلوی این منفعت ها در رشد اقتصاد محلی و حمایت زارعان نیز مؤثر و کارا واقع می گردد و مهمتر از همه، فرصت های شغلی مستقیم و غیرمستقیم را نیز برای مردم محل و شهر ها فراهم خواهد ساخت.

د افغانستان حقیقت د منفي ...

له لارې وي، چې زیاتره پر جګړو، شخړو او سختو پېښو تمرکز لري. که څه هم دا راپورونه مهم دي، خو زما په اند هېڅکله د افغانستان، د دې هېواد د کلتور، تاریخ او خلکو بشپړ انځور نه شي وړاندې کولای. ما غوښتل افغانستان له نږدې ووینم، د خلکو نظرونه واورم او له هغوی څخه په مستقیم ډول زده کړه وکړم، څو د دې هېواد په اړه ربښتینې پېژندنه ترلاسه کړم.»

له استرالیا راغلې ګرځندویه، لي‌لي، هم وویل: «ایملي او ما تر اوسه د نړۍ نږدې ۶۰ هېوادونو ته سفر کړی؛ خو دواړه باور لرو، چې د افغانستان طبیعي ښکلا، تاریخ او کلتور له هغو ټولو هېوادونو سره چې تر دې مخکې مو لیدلي، د پرتله کېدو وړ نه دي. د افغانستان بډایه او پېچلې تاریخ د خلکو، دودونو او زړه‌راښکونکو منظرو کې په ښه ډول څرګند دی.» د دغو ګرځندویانو افغان لارښودان هم وايي، د ګرځندوی صنعت وده نه یوازې د هېواد په ګټه ده، بلکې د خلکو لپاره د کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې هم مهم رول لري.

د ګرځندویانو لارښود، محمد عمر پناه، وویل: «که موږ د ګرځندوی پر صنعت کار وکړو، دا به په مستقیم او غیرمستقیم ډول د کارموندنې ګڼ فرصتونه رامنځته کړي.» افغانستان، سره له دې چې اوږد او پېچلې تاریخ لري، لا هم د هغو کسانو لپاره چې غواړي حقیقت له نږدې ووینې، د ناویلو کیسو ټاټوبی دی؛ داسې ځای چې هره لاره، هر تاریخي ودانۍ او د هر کوربه موسکا یوه نوې کیسه له ځان سره لري.

د افغانستان د ثبات او ...

د بزګرانو او راستنېدونکو افغان کډوالو د ملاتړ، افغان سوداګرو ته د ویزو د اسانتیاوو او نورو پرمختیایي برخو کې خپلې همکارۍ لا پراخې کړي.

په همدې حال کې د ترکیې سفیر د افغانستان وروستي پرمختګونه وستایل او ویې ویل: هېواد یې له افغانانو سره د بشري مرستو او پراختیایي همکاریو دوام ته ژمن دی.

ده زیاته کړه: ترکیه غواړي د دواړو هېوادونو ترمنځ اړیکې لا پیاوړې شي او په بېلابېلو برخو، په ځانګړي ډول د روغتیا، زده‌کړو، سوداګرۍ او بشري خدمتونو په برخه کې خپلې همکارۍ پراخې کړي، ترڅو د افغانستان د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ او د خلکو د هوساینې لپاره لا

اغېزمن رول ولوبوي.

له ۸۲ زره ډېر راستانه شوي ...

د اسلامي امارت د ویاند مرستیال ملا حمدالله فطرت پر خپله ایکس‌پاڼه لیکلي، د کډوالو د ستونزو د حل عالي کمېسیون له ۱۲ کمېټو څخه د ښوونې او جوماتونو کمېټه د راستنېدونکو ماشومانو د زده‌کړې حق ته ځانګړې پاملرنه کوي او هڅه کوي، چې هېڅ ماشوم د کډوالۍ له امله له زده‌کړو محروم نه شي.

د ده په خبره، د همدې موخې لپاره ځانګړې کړنلاره جوړه شوې چې له مخې یې ټول راستنېدونکي ماشومان د یادې کمېټې له خوا ثبت او راجستر کېږي، وروسته د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت له لارې په رسمي ډول د پوهنې وزارت ته معرفي کېږي.

ده زیاته کړې چې له دې وروسته د دغو ماشومانو د زده‌کړې د سویې د تثبیت ازموینه په مرکز او ولایتونو کې اخیستل کېږي او تر ارزونې وروسته د هغوی د زده‌کړې له کچې سره سم په دولتي ښوونځیو او د هېواد په نورو ښوونیزو بنسټونو کې شاملېږي.

فطرت ویلي، د ۱۴۰۴ ښوونیز کال له پیله راهیسې په ټول هېواد کې له ۸۲ زره او ۸۳۲ راستنېدونکو ماشومانو د سویې د تثبیت ازموینه اخیستل شوې او تر ارزونې وروسته اړوندو ښوونځیو ته معرفي شوي دي.

د ده په خبره، دغه بهیر لا هم روان دی او هره ورځ نوي راستنېدونکي ماشومان د همدې کړنلارې له مخې ښوونیز نظام ته جذبېږي.

ده ټینګار کړی: «که کوم زده‌کوونکي د کډوالۍ پر مهال خپل تعلیمي اسناد له لاسه ورکړي وي، د دغو اسنادو نشتوالی د هغوی د زده‌کړو د دوام خنډ نه ګرځي. دغه زده‌کوونکي خپل معلومات د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت له لارې بېرته ثبتوي او د رسمي مکتوب له ترلاسه کولو وروسته یې تعلیمي وضعیت ارزول کېږي او د کړنلارې له مخې د زده‌کړو د دوام لپاره ټولې اسانتیاوې او لازم شرایط ورته برابرېږي.»

د ده په خبره، د ښوونې او جوماتونو کمېټه هڅه کوي چې راستنېدونکي زده‌کوونکي هم د نورو زده‌کوونکو په څېر له ټولو ښوونیزو خدمتونو برخمن شي. د اړتیا په صورت کې هغوی ته کتابونه، قرطاسیه او نور اړین درسي توکي هم برابرېږي، څو هېڅ ماشوم د اقتصادي ستونزو له امله له زده‌کړو محروم نه شي.

مولوي محمد یعقوب مجاهد ...

په اشکاشم ولسوالۍ کې د پنځلسمې سرحدي لواء لومړي سرحدي کنډک څخه لیدنه کړې دی.

په دې لیدنه کې یې د یاد کنډک دفاعي ځواکونو کړنې له نږدې ارزولې او هغو ته یې د مورال په ورکولو سره د خپلو سرحدونو د ساتنې او دفاع په برخه کې پر لا زیاتو هڅو او چمتووالي ټینګار کړی دی.

د توریزم او هوټلدارۍ ...

د توریزم او هوټلدارۍ په برخه کې د خدمتونو کیفیت لوړول، له شته امکاناتو او ظرفیتونو څخه اغېزمنه استفاده او د نافذه قوانینو او مقرراتو په چوکاټ کې د ګډو ښوونیزو، څېړنیزو او پرمختیایي پروګرامونو پلي کول دي.

د یاد هوکړه لیک له مخې به د دواړو لوریو په همکارۍ د لارښود (ګایډ) لپاره لنډمهاله، منځ‌مهاله او تخصصي روزنیز کورسونه، ورکشاپونه او سمینارونه ترسره شي؛ د کار بازار د اړتیاوو مطابق درسي نصابونه به برابر شي؛ ګډې څېړنیزې پروژې به پلې شي؛ سیاحتي خدمتونه به وارزول شي؛ د مدیرانو او کارکوونکو د ظرفیت لوړولو لپاره به روزنیز پروګرامونه ترسره او همدا رنګه د ګرځندوی مدیریت، «جي‌پي‌اس» کارونې، د ګرځندوی بازارموندنې، د ګرځندویي جاذبو او لرغونو اثارو د پېژندنې، هوټلدارۍ او مېلمه پالنې، له مراجعینو سره د اړیکو، بهرنیو ژبو، معلوماتي ټکنالوژۍ او نورو اړوندو برخو کې به تخصصي - روزنیز پروګرامونه جوړ او ترسره شي.

هېره دې نه وي چې د دوه اړخیزې همکارۍ د یاد هوکړه لیک عملي کېدل به، د توریزم او هوټلدارۍ په برخه کې د علمي، تخنیکي او مسلکي ظرفیتونو د لوړولو، د بشري سرچینو د ودې، سیلانیانو ته د خدمتونو کیفیت د ښه والي او له شته امکاناتو او ظرفیتونو څخه د ښې استفادې په برخه کې مهم رول لوبوي.

د افغانستان او ازبیکستان ...

پنځو میاشتو کې شاوخوا ۲۰ زره او ۴۱۵ واګونه لېږدول شوي وو؛ خو د روان کال په لومړیو پنځو میاشتو کې دا شمېر له شاوخوا ۴۰ تر ۴۱ زرو واګونو ته رسېږي.»

سوداګر په دې باور دي چې د وسپنې پټلۍ له لارې د سوداګریزو راکړو ورکړو پراختیا د لېږد رالېږد لګښتونه راکموي، د توکو د لېږد خوندیتوب زیاتوي، د لېږد وخت لنډوي او په ترانزېټي لارو کې ګڼه ګوڼه هم کموي.

پامیر کې د چین تر پولې...

او د سړک هوارول شامل دي چې پکې څلور لوی پلونه، ۷۰ پلچکونه او ۳۱ استنادي دېوالونه هم شامل دي. د دې پروژې ټولیز لګښت ۳۲۳ میلیونه افغانۍ اټکل شوی، چې د کلیو د بیارغونې او پراختیا وزارت له بودجې ورکول کېږي.

په ورته مهال د سیمې اوسېدونکي د دې پروژې د پلي کېدو هرکلی کوي او غواړي چې له چین سره په ګډه پوله کې د بازار جوړېدو چارې هم پیل شي. د سیمې د خلکو په خبره، د اسلامي امارت مسؤلین باید له چینایي چارواکو سره هوکړې ته ورسېږي، ترڅو د یوه ګډ سرحدي بازار د جوړېدو زمینه برابره شي، د دوی په باور، دا اقدام به د دوی په اقتصاد مستقیم اغېز پرېباسي. باختر

کندز کې د امر بالمعروف ...

چې د قوانینو د ښه تطبیق، د ټولنیزو ناهنجاریو د مخنیوي او خلکو ته د عامه پوهاوي په برخه کې به له اړوندو ادارو سره هر ډول همکاري وکړي.

د سیمه‌ییزو مسؤلینو په وینا، په کندز کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر ریاست د محتسبینو د دوامدارو هڅو په پایله کې د یو شمېر ټولنیزو ناهنجاریو کچه راټیټه شوې او د اصلاحاتو او عامه پوهاوي لړۍ په دوامداره توګه روانه ده.

د لوګر والي د مس عینک ...

او اوبو کمښت د دې پروژې له مهمو ننګونو څخه دي؛ خو ژمنه یې وکړه چې د مس عینک کان د استخراج عملي چارې به ډېر ژر پیل کړي.

د شرکت د معلوماتو له مخې، دا مهال د مس عینک کان په پروژه کې ۹۷ سلنه کارکوونکي د لوګر اوسېدونکي دي او په ګومارنو کې د همدې ولایت انجنیرانو، متخصصانو او کارګرانو ته لومړیتوب ورکول کېږي.

نړیوال قانون دې د ملکي ...

پر خوندیتوب ټینګار کوي، چې پاکستان شاوخوا اوه ورځې مخکې د کنړ، پکتیا او پکتیکا ولایتونه د هوایي بریدونو هدف ګرځولي وو. د راپورونو له مخې، په دې بریدونو کې ۳۶ تنه، چې ماشومان هم پکې شامل وو، شهیدان شوي او ۱۶۳ نور کسان ټپیان شوي وو. دې پېښې په سیمه کې سخت غبرګونونه راپارولي او د ملکي تلفاتو په اړه یې اندېښنې زیاتې کړې دي.

بغلان کې د سترګو درملنې ...

د سترګو وړیا خدمتونه وړاندې کړي.

په ورته مهال د بغلان اوسېدونکي د دې پروګرام له پلي کېدو خوښي ښودلې او له مسوولینو یې غوښتي، چې د د رملنې دا ډول پروګرام نورو پرتو ولسوالیو ته هم وغځوي.

نورستان کې لس زره کسانو ...

لپاره د روانو هڅو یوه برخه ده.

یونیسف په همدې تړاو د نورستان د یوې اته کلنې نجلۍ خبرې هم خپرې کړې دي. هغې ویلي: «پخوا اوبه ترخې وې او موږ به یې ناروغان کولو؛ خو اوس پاکې اوبه لرو او زه ډېره خوشحاله یم.»

ننګرهار کې به سږ کال ...

چې تېر کال دغه اندازه ۹۰.۳ متریک ټنه وه.

د ښاغلي اتل په وینا، د حاصلاتو د زیاتوالي مهم لاملونه د ځنګل لرونکو سیمو اوسېدونکو ته د جلغوزیو د حاصل راټولولو په برخه کې د مسلکي روزنو او عامه پوهاوي پروګرامونو پلي کېدل، د جلغوزیو د غوټو د راشکولو د معیاري او مسلکي طریقو دودول او د طبیعي ځنګلونو اغېزمنه ساتنه ده، چې د تولید په لوړوالي کې یې مهم رول لوبولی دی.

د ننګرهار د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست ټینګار کړی، چې د قدرتي ځنګلونو ساتنه او دوامداره مدیریت یې له اساسي لومړیتوبونو څخه دي. دغه ریاست هڅه کوي د ځنګلونو د خوندي ساتنې ترڅنګ د جلغوزیو تولید زیات، د ځایي اوسېدونکو اقتصادي وضعیت پیاوړی او له طبیعي زیرمو څخه دوامداره او مسؤلانه ګټه اخیستنه یقیني کړي.

د یادونې وړ ده، چې جلغوزي د افغانستان له مهمو صادراتي او لوړ ارزښته ځنګلي محصولاتو څخه شمېرل کېږي. ننګرهار د هېواد له هغو ولایتونو څخه دی، چې د جلغوزیو پراخ قدرتي ځنګلونه لري، او د دغو ځنګلونو معیاري مدیریت نه یوازې د صادراتو او ملي عوایدو په زیاتوالي کې مهم رول لري، بلکې د ځنګلونو په ساتنه، د چاپېریال په خوندیتوب او د ځایي خلکو د عایداتو په لوړولو کې هم اغېزناک تمامېږي.

افغان اعلانات

د داوطلبیو خبرتیا

د استخباراتو عمومي ریاست له ټولو واجد داوطلبانو څخه غوښتنه کوي ترڅو په (تهیه و تدارک ۱۱ قلم مواد هیمودیالیز و ۵۷ قلم ملزمه طبي ضرورتمندی شفاخانه استخبارات) چې د تشخیصیه شمیره یې:

NCB/05-GDI/1405/NCS-04

ده ګډون وکړئ. او د شرطپاڼې سافټ په فلش یا سي ډي ډیسک کې په وړیا توګه د استخباراتو د تدارکاتو څانګې څخه چې پته یې ده ملالۍ واټ، ملالۍ زیژنتون ترڅنګ شهر آرا کابل-افغانستان څخه ترلاسه کړئ.

له ګډونوالو څخه هیله کیږي چې د تدارکاتو قانون او کړنلارې له مخې خپل افرونه په ترل شوې بڼه چې تاریخ او توانایي په آفر کې ذکر شوي دي تسلیم کړئ، او الکترونیکي آفرونه د منلو وړ ندي.

موضوع: د افغانستان د خوندي اسنادو د چاپ امارتي شرکت د ۴۷ قلمه داغمه اجناسو د لیلام خبرتیا!

پدې اساس، خبرورکول کیږي؛ د افغانستان د خوندي اسنادو د چاپ امارتي شرکت په پام کې لري، چې ۴۷ قلمه داغمه توکي په ۱۴۰۵/۰۴/۲۴ نیټه د چهارشنبه په ورځ لیلام د پروسې له لارې خرڅلاو (مزایدې) ته وړاندې کړي، ټول حقیقي او حکمي کسان چې د یادو اجناسو د پیرلو غوښتنه کوي په ټاکل شوې نیټه دې د سهار (۰۹:۰۰) بجو د چهلستون عمومي سړک، د جنګلک پخوانۍ فابریکه، اوومه ناحیه د افغانستان د خوندي اسنادو د چاپ امارتي شرکت ته دې تشریف راوړي د اړتیا په صورت کې کولای شي (۰۲۰۲۵۲۷۵۲۱) شمیرې سره اړیکه ونیسي.

په پای کې د افغان اعلاناتو محترم اداري څخه هیله کیږي؛ د اعلان د نشر او خپراوي حق الزحمه د آویز او کټینګ د تسلیمیدو څخه وروسته د دغه شرکت مالی او اداری محترم ریاست څخه ترلاسه کړي.

یاددونه: (۱۵٪) پنځلس فیصده تضمین د داوطلبۍ د شروع څخه مخکې نغداً اخیستل کیږي.

اطلاعیه مفقودی مهر دواخانه

محترم قدرت الله احمدی فرزند میر احمد ولدیت محمد موسی دارنده تذکره نمبر (۵۷۱۶۸- ۰۱۰۱ - ۱۴۰۳) مالک امتیاز دواخانه آب خورک واقع ولسوالی روی دوآب ولایت سمنګان عنوانی معینیت غذا و ادویه وزارت صحت عامه عارض و از مفقودی مهر دواخانه خویش خبر داده است

اشخاص موسسات ودوایر دولتی در مورد آگاهی حاصل نموده و از تاریخ نشر اعلان مطابق قانون و مقرره مهر دواخانه مذکور از اعتبار ساقط می باشد.۳۲۸۶

خبرتیا

د هوټلونو امارتي شرکت اړوند سپین غر هوټل (۲۸۲) متر مربع سپینه ځمکه جلال آباد ښار لومړی ناحیه کې چې د قانوني اصولو منظور شوې شرطپاڼې له مخې د داوطلبي له لارې د اجارې لپاره اعلان ته وړاندې کوي، له ټولو حقیقي او حکمي اشخاصو څخه چې د یادې ځمکې اخیستلو ته لیوالتیا لري هیله کیږي چې شرطپاڼه هوټلونو امارتي شرکت د تدارکاتو عمومی مدیریت څخه ترلاسه کړي او خپل آفر په مهر اولاک شوې بڼه وروسته د اعلان څخه تر ۲۱ ورځو پورې د هوټلونو امارتی شرکت د تدارکاتو عمومې مدیریت ته وسپاري.

ناوخته رسیدلي او یا نمیګړی آفر د منلو وړ نه دی، د آفر تضمین : بانکی تضمین یا نغدې پیسې (AF ۵۵۸۰۰) پنځه پنځوس زره اته سوه افغانی اخستل کیږي.

د اړیکی شمیره : ۷۰۵۰۵۴۸۰۱

پته: اوومه کوڅه ۳۰ نمبر کور،کارته سه کابل - افغانستان Website : h-soc-gov.af

۳۲۸۴

اعلان لیلام اجناس داغمه

قراراست ریاست اجرائیوی شرکت امارتی آبرسانی و فاضلآب شهری به تعداد (۴۵۲) قلم اجناس داغمه خویش را ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱۴۰۵/۰۴/۲۰ روزشنبه باحضورداشت هئیت های موظف لیلام نماید. اشخاص انفرادی وشرکت های تجارتی خواهان خریداری آن را داشته باشند میتوانند به تاریخ متذکره به ریاست اجرائیوی شرکت امارتی آبرسانی وفاضلاب شهری واقع سرتپه کارته نو ناحیه هشتم شهرکابل مراجعه نمایند.

وسلام

یادداشت: پانزده فیصد پول تضمین اشتراک ازداوطلب اخذ میگردد.

شماره های تماس: ۰۷۷۱٤۱۳٤۷۲ - ۰۷٦٤٥٦٥۰٦۸

اطلاعیه لیلام داغمه جات وزارت مالیه!

وزارت مالیه به تاریخ ۱۴۰۵/۵/۳ به تعداد (۷۷۲) قلم اجناس داغمه (مثل میز وچوکی ، تخته ، وسایل تکنالوژی، کمپیوتر، پرنتر، پرزه موتر، ماشین موتر، بطری موتر، تایرموتر و سایر اجناس) به شمول ۲۵ عراده موتر سایکل را میخواهد به بلندترین قیمت به نفع امارت اسلامی لیلام نماید، داوطلبان میتوانند به تاریخ مذکور در مرکز قطعه محافظت گمرکات واقع پلچرخی حاضر و یا به شماره تلیفون (۰۷۸۰۶۲۵۴۳۸) به تماس شوند پول تضمین، ۱۵ فیصد قبل از شروع داوطلبی نقداً اخذ میگردد.

اطلاعیه مفقودی

بر اساس وکالت نامه نمبر ۵۳۴ مورخ ۱۴۰۴/۵/۷ مرتبه جنرال قونسلگری مونشن کشور آلمان و قبولی نمبر ۱۴۹۷ /۵۵۴ مورخ ۱۴۴۷/۴/۲۰ مرتبه محکمه وثایق حوزه دوم شهر کابل در رابطه به یک دربند سرای واقع چوک چهار چته مشهور به سرای داده شیر مربوط املاک ناحیه اول شاروالی کابل ثبت مخزن کابل به شماره ۷۷ برج ۴ سال ۱۳۱۳ بحیث وکیل عام و تام و صلاحیت های مندرج وکالتنامه فوق تعین و مقرر گردیده بناء اسناد مذکور مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۲۹۲

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت تجارتی به اسم محمود بیان زی فرزند عبدالغفار مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۲۸۲

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز تشبث شرکت تجارتی عبدالولی ملک زی نمبر ۶۸۴۳۸ به اسم عبدالولی ملک زی فرزند شاه محمود مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۲۷۶

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه پنجم چهار راهی قمبر به اسم عبدالعظیم فرزند تاج الدین مفقودگردیده‌ازاعتبارساقط میباشد.۳۲۷۷

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه ۱۳ خیر آباد به اسم علی یاور فرزند محمد انور مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد.۳۲۶۴

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم کمال ادلین جلال زی فرزند جلال الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سید یاسین خان فرزند اسد الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم صالحه داودی بنت عبدالروف مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد نعیم علیزاده فرزند محمد حسن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم صفیه شینواری بنت شفیق الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد عیان شینواری فرزند امان الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد نعمان شینواری فرزند امان الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد کیهان شینواری فرزند امان الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ریحان الله شینواری فرزند امان الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نسرین شینواری بنت امان الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم رفیع الله نقیب فرزند نقیب الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد یاسیر محمدی فرزند عبدالمطلب مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بی بی طیبه بنت محمد خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالعزیز حسینی فرزند صفر علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد رسول فرزند عبدالغنی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد. ۶۸۸۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد رضایی فرزند عوض مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حضرت ولی ارمانی فرزند حاجی علم گل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم غلام علی محمدی فرزند محمد علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بهار مومند فرزند شریف الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم قربان علی نظری فرزند خادم حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نور الله رسولی فرزند نجم الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حبیب الله شفایی فرزند کلبی حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالله رحمانی فرزند فیض محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زهرا تاجک بنت عبدالرحمن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالکریم مخلص فرزند عبدالهادی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم انعام الله روفی فرزند خال محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مهدی علی زاده فرزند عوض علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جواد حکیمی فرزند سردار محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نعمت الله حیدری فرزند نور علم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عباس دانش فرزند عبدالله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بختیاری حسینی فرزند عبالخالق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.۶۸۸۷

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه کارت زرد و یک قطعه فورم دستور نقشه ساخت و ساز به اسم سید کریم فرزند عبدالکریم ولدیت نور الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۲۹۰

اطلاعیه مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه پنجم کمپنی گذر چهارده به اسم عید محمد فرزند محمود مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۲۶۳

اطلاعیه مفقودی

یک طغرا مهر مربوط مکتب خصوصی اصولی مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۲۷۴

سږکال د کانکور ازموینو ...

د نوموړي په وینا: کوم زده کوونکي چې په دې ازموینو کې بریالي شوي او کومو کسانو، چې تر ټولو زیاتې نمرې اخیستي دي، د دوی د کلونو خواریو پایله ده چې دوی بېلا بېلو رشتو ته بریالي شوي دي. کوم زده کوونکي، چې بریالي شوي دي، ټولو هېوادوالو ته دې مبارک وي او کوم زده کوونکي چې پاتې شوي دي، نه دې نا امیده کېږي او راتلونکي کال ته دې چمتوالی ونیسي. سږکال د کانکور په ازموینې کې ۱۱۷۷۵۰ زده کوونکو د هېواد په کچه ګډون کړی وه چې په شفاف او منظم ډول یې ازموینه ور کړې ده.

د نوموړي په خبره: اسلامي امارت هڅه کړې، چې ځوانانو ته په دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې د زده کړو زمینه برابره کړې ده. په ټولو دولتي ښوونځیو او پوهنتونونو کې هر ډول امکانات وړیا برابر شوي دي، چې په نورو هېوادونو کې بیا دا زمینه برابره نه ده. دوی ملاتړ، له کانونو، عوایدو، طبیعي سرچینو او د هېوادوالو له مالیاتو څخه پوره کېږي او هېواد کې دننه د پیل څخه تر لوړو زده کړو ترلاسه کول وړیا دي. زده کوونکي دې د شته فرصت څخه ګټه واخلي او د خپلو رشتو مطابق دې په منظمه زده کړې وکړي تر څو په راتلونکي کې د هېواد خدمت ته اوږه ور کړي.

د غونډې په جریان کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د خپرولو چارو مرستیال مولوي مهاجر فراهي وویل: د تېرو پنځو کلونو راهسې د ستونزو سره سره بیا هم زده کوونکي د کانکور په ازموینې کې ګډون کوي او د تبلیغاتي دښمن پر مخ څاپېړه ده چې دوی وایي ګواکې په افغانستان کې د زده کړو زمینه برابره نه ده؛ خو د نورو کارونو تر څنګ په هېواد کې د زده کړو سکتور لپاره ځانګړې پاملرنه کړې ده چې دوی هم باید د خپلو زده کړو بهیر غښتلی وساتي او خپل فکر دې زده کړو کې متمرکز وساتي. د نوموړي په وینا: کوم زده کوونکی چې له پیل سره په غوره توګه زده کړې ونه کړي، نو پایله به یې بې نتیجې وي، نو بیا هم ورته مخکې پراته چانسونه شته، چې ګټه ترې پورته کړي. په ورته مهال د یادې اداري عمومي رئیس شېخ عبدالباقي حقاني وویل: د افغانستان دننه د کانکور د ګډونوالو لپاره د هیلو پوره کېدونکې ورځ ده چې دوی د خپلو دولسو زیاتو کلونو د وېستلو خواریو پایله ترلاسه کوي. د عصري علومو په برخه کې ځوانانو پرمختګ کړی دی چې ۴۵ کلونو جګړو یې په مخ کې خنډونه پیدا نه کړل؛ خو نورو هېوادونو ته په کتلو سره بسنه نه کوي. د اسلامي امارت په راتګ سره د زده کړو بهیر روښتیا پیدا کړې ده او وړتیاوو په کې ځای نیولی دی. د حقاني له قوله: اسناد د چا د وړتیا لامل نه کېږي، نو په کار ده چې ځوانان عصري او دیني علوم ترلاسه کړي. افغانستان دیني او عصري زده کړو ته اړتیا لري، تر څو ور ځیني د هېواد په ابادۍ کې کار واخلو. د اسلامي په راتګ سره مدرسې، سرحدونه او امنیت خوندي دی. ځوانانو زحمت باستلی دی چې تر څو لوړو زده کړو ته لار پیدا کړي. همدارنګه اسلامي امارت ځوانانو ته د زیات چانسونو په رامنځته کولو سره له ډول ډول برنامو ګټه پورته کړه چې دوی د زده کړو ترلاسه کولو پوره ډاډ ترلاسه کړي او بېلا بېلو برخو کې ورته لازمې اسانتیاوې رامنځته شوي دي.

د نوموړي په خبره: د ۱۴۰۵ کال د دیني مدارسو د کانکور ازموینې پنځه غوره ګډونوالو له جملې؛ عبدالمجید د عبدالعزیز زوی د غور ولایت څخه د پکتیا ولایت مرکزي دارالعلوم ته په ۳۲۷ نومرو بریالی شوی دی. همداشان د عصري علوم زده کړو ته؛ راشد د پهلوان زوی چې د پروان اوسېدونکی دی، د ۳۶۰ نومرو په ترلاسه کولو سره کابل طبي علومو طب پوهنځي عمومي څانګې ته بریالی شوی دی، چې د لومړي ځل لپاره پوره نومرې د افغانستان د کانکور په تاریخ کې اخیستل شوي دي. د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې مرستیال شیخ عبدالمالک حقاني وویل: نن د هېواد په کچه د ځوانانو ترمنځ د خواریو پایلې اعلانېږي. مونږ د هر څه زیات علم ته اړتیا لرو او باید په ارزښت یې پوه شو. د هر څه پرمختګ، کشفیات او نور شیان له مسلمانانو له لورې نړۍ ته وړاندې شوې دي. مونږ اړ یو چې په زده کړو سمبال ځوانان ورزو، دنیا ته یې په سهي او صداقت سره وړاندې او د خدمت په برخه کې ور ځیني ګټه پورته کړو. د نوموړي په خبره: تعلیم کمال دی چې انسان ته بالقوه غښتلتیا ور کوي او دې برخه کې مو ارادې لوړې دي، تر څو د پرمختللې ټولنې لپاره زحمت کالو چې ځانونه د جهالت څخه راوباسو. د چاپېریال ساتنې عمومي ادارې رئیس مولوي مطیع الحق خالص وویل: څوک چې په دې ازموینو کې بریالي شوي دي، باید په دې زده کړو بسنه ونه کړي او هڅه له دې هم ډېره وکړي تر څو په ټولنه کې د خلکو خدمتګار واوسي نه د یو مشخص کس، نو دا هېواد د ټولو کور دی او باید ورته یو ځای کار وکړو.

زیارمل هوتک

Hewad Daily

د ورځپاڼو رئیس: انجنیرعُزیر بریالی
آمر او مسئول مدیر: محمد قاسم عزام
مسئول سکرتر: شېرمحمد نظري
ډیزاینر: یما عرب
د ویبپاڼې مدیر : ګل ولي افغانیار
چاپ پته: آزادي مطبعه، امارتي شرکت
پته: اتمه ناحیه د حضوري چمن ختیځ-کابل

بریښنايي بڼه
X
www.hewaddaily.com
info@hewaddaily.com
020-2526340
0766490049

اسعارو بیعه

یو ډالر	٦٦.٠٠	اف
یو یورو	٧٥.١٠	اف
یو پونډ	٨٥.٢٠	اف
یو درهم	١٧.٩٧	اف
زر ریال	٠٣٧	اف
زر کلدارې	٢٢٨	اف
زر کلدارې	٧٤٦	اف

د هوا حالات

٠٤:٤٧	کابل	هرات	مزار شریف	کندهار	هلمند	فراه	غزنی	٠٧:٠٩
	٣٣°C	٣٥°C	٤١°C	٤٠°C	٤٢°C	٤٢°C	٣٠°C	

د کورنیو چارو وزیر؛ د روغتیا نړیوال سازمان له پلاوي سره د روغتیایي خدمتونو د پیاوړتیا په اړه خبرې وکړې

د افغانستان د کورنیو چارو وزیر (خلیفه سراج الدین حقاني) د (WHO) د ختیځې مدیترانې د سیمه‌ییز دفتر له مشرې او مل پلاوي سره د افغانستان د روغتیایي سکټور د پیاوړتیا په اړه خبرې کړې دي.
لیدنې پر مهال د روغتیایي خدمتونو د پراختیا، د روغتیایي ادارو ترمنځ د همغږۍ او د پولیو ضد واکسین د پروګرامونو د لا اغېزمن تطبیق په اړه بحث وشو. حقاني پلاوي ته ډاډ ورکړ چې حکومت به د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې هر ډول همکاري وکړي. نوموړي وویل، اوس په افغانستان کې د امنیت له پلوه داسې شرایط رامنځته شوي چې روغتیایي ادارې کولی شي خپلې چارې په پراخه کچه ترسره کړي.
ده زیاته کړه، افغانان لا هم د روغتیایي خدمتونو له کمښت سره مخ دي او روغتیایي خدمتونه د بشري مرستو مهمه برخه جوړوي. د ده په وینا، اړتیا ده چې په دې برخه کې ګډې هڅې او همکارۍ زیاتې شي او د روغتیایي خدمتونو د وړاندې کولو پر وړاندې به سیاسي ملاحظات خنډ نه شي.

کندز کې د امر بالمعروف د قانون د اغېزمن پلي کېدو او اصلاحاتو پر بهیر خبرې وشوې

د امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکایتونو اورېدو وزیر شیخ محمد خالد حنفي کندز ته د سفر پر مهال د بدخشان، تخار، کندز او بغلان ولایتونو د سیمه‌ییزو مسؤلینو، دیني عالمانو او قومي مشرانو په ګډون په یوې غونډه کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر د قوانینو د تطبیق وضعیت وڅېړه او د قانون د لا اغېزمن پلي کېدو او د خلکو د ستونزو د حل په موخه یې اړوندو مسؤلینو ته لازمې سپارښتنې وکړې. شیخ محمد خالد حنفي وویل، د دې سفر موخه د نوي توشېح شوي قانون د اغېزمن تطبیق لپاره د مناسبې زمینې برابرول، په ټولنه کې د منکراتو مخنیوی، د اړوندو ادارو ترمنځ د همغږۍ پیاوړتیا او د خلکو ستونزو ته رسېدنه ده.

په همدې غونډه کې د کندز والي مولوي نصرالله مطیع د وزیر او ورسره مل پلاوي هرکلی وکړ او ویې ویل، چې د کندز خلک تل د نظام ترڅنګ ولاړ دي او له اسلامي امارت څخه خپل ملاتړ څرګندوي.
د ګډونوالو په استازیتوب آغامیر ناصري هم د یاد سفر هرکلی وکړ او ډاډ یې ورکړ ...

۲مخ

د لوګر والي د مس عینک کان د را ایستنې د عملي چارو د ژر پیل غوښتنه وکړه

د لوګر والي قاري صلاح‌الدین ایوبي د چینایي «ام‌سي‌سي» شرکت له پلاوي سره په لیدنه کې د مس عینک کان د استخراج د عملي چارو پر پیل ټینګار وکړ.

په دې لیدنه کې د لوګر والي وویل، چې د افغانستان دولت او ولس د مس عینک کان د استخراج د عملي چارو ژر پیل غواړي او اړینه ده، چې د دې سترې پروژې چارې ژر تر ژره پیل شي.
نوموړي زیاته کړې، چې د لوګر اوسېدونکي په دوامداره توګه د یادې پروژې د کاري فرصتونو د ترلاسه کولو لپاره ولایت مقام ته مراجعه کوي، له همدې امله باید د انجنیرانو، متخصصانو، کارګرانو او ځوانانو په ګومارنه کې د لوګر اوسېدونکو ته لومړیتوب ورکړل شي.
ده همدارنګه یاد شرکت ته د ستونزو د حل ډاډ ورکړ او ویې ویل، چې په دغه برخه کې به شته ستونزې د ریاست‌الوزراء د اقتصادي معاونیت او د کانونو او پټرولیم وزارت سره شریکې کړي.
په ورته مهال، د چینایي «ام‌سي‌سي» شرکت پلاوي د پروژې د روانو فعالیتونو په اړه معلومات ورکړل او ویې ویل، چې د برېښنا ...

۲مخ

ملګرې ملتونه:

نړیوال قانون دې د ملکي وګړو ساتنه یقیني کړي

د افغانستان برخه د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر (UN OCHA) یو ځل بیا ټینګار کړی چې ملکي وګړي هېڅکله باید د جګړو او شخړو بیه ور نه کړي او د هر ډول پوځي نښتو او تاوتریخوالي تر ټولو زیات زیان باید عام خلک ونهویني. دې ادارې په خپل رسمي اېکس حساب کې لیکلي، چې د نړیوال بشري قانون له مخې د ملکي وګړو ساتنه یو بنسټیز اصل دی او ټول اړخونه باید د دې اصل درناوی وکړي. اوچا ویلي: ملکي وګړي باید له هر ډول بریدونو، وېرې او ناامنۍ څخه خوندي وساتل شي، ځکه هغوی د جګړو برخه نه دي. د دې ادارې په وینا: وسله‌والې شخړې یوازې د انسانانو ژوند نه اخلي، بلکې کورونه، ښوونځي، روغتیایي مرکزونه او نور بنسټیز تاسیسات هم ویجاړوي. همدارنګه جګړې د خلکو ورځنی ژوند سخت اغېزمن کوي، د اقتصاد د کمزورۍ لامل ګرځي او د بې‌ځایه کېدو کچه لوړه وي. اوچا زیاتوي، چې د جګړو روان حالت د خلکو پر رواني روغتیا هم ژور اغېز لري، په ځانګړې ډول ماشومان، چې د وېرې، اضطراب او اوږدمهاله ذهني فشار سره مخ کېږي. د دې ادارې په باور، د جګړو اغېزې یوازې فزیکي نه بلکې ټولنیزې او رواني هم وي، چې د ټولنې اوږدمهاله پرمختګ ته زیان رسوي. دا نړیواله اداره په داسې وخت کې د ملکي وګړو ...

۲مخ

بغلان کې د سترګو درملنې وړیا پروګرام پیل شو

د بغلان عامې روغتیا ریاست مسؤلینو ویلي، چې د ګرځنده روغتیایي ټیم له لوري د یاد ریاست په انګړ کې د سترګو د درملنې وړیا خدمتونه پیل شوي دي.
د بغلان د عامې روغتیا سرپرست رئیس ډاکټر فضل الرحمن رحماني باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې په دغه پروګرام کې ۴۰۰ ناروغانو د کاتاراکټ عملیاتونه، د ۸۵۰ ناروغانو لپاره معاینه شوې عینکې او ۵ زره نورو ناروغانو ته وړیا معاینات او د درملو ورکړه شامله ده.
د سرچینې په خبره، دغه مسلکي ټیم به د روانې چنګاښ میاشتې تر ۲۵مې پورې ناروغانو ته ...

۲مخ

نورستان کې لس زره کسانو د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسی پیدا کړ

د ملګرو ملتونو د ماشومانو وجهي صندوق (یونیسف) ویلي، چې د نورستان نږدې لس زره اوسېدونکو ته یې د څښاک پاکې اوبه برابرې کړې دي. یونیسف پر خپله اېکس‌پاڼه لیکلي چې دا پروژه د اروپايي ټولنې په مالي ملاتړ پلې شوې ده. سرچینې زیاته کړې، چې دغه پروژه د ککړو اوبو له امله د رامنځته‌کېدونکو ناروغیو په مخنیوي او د ماشومانو او کورنیو د روغتیا په خوندیتوب کې مهم رول لري. یونیسف ټینګار کړی، چې د دې پروژې پلي کول په افغانستان کې په زیانمنو سیمو کې د څښاک پاکو اوبو برابرولو ...

۲مخ

ننګرهار کې به سږ کال د جلغوزیو له طبیعي ځنګلونو څخه ۱۴۰ متریک ټنه حاصلات ترلاسه شي

د ننګرهار د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ ریاست وایي، چې د روان کال په ترڅ کې به د دې ولایت د جلغوزیو له طبیعي ځنګلونو څخه د اټکل له مخې ۱۴۰ متریک ټنه خالص جلغوزي ترلاسه شي، چې دا د تېر کال په پرتله د حاصلاتو د پام وړ زیاتوالی ښیي.

د یاد ریاست د قدرتي زېرمو امر قاري کاهون عبدالرحمن اتل ویلي، چې د ننګرهار په حصارک، شېرزاد، خوږیاني، پچیراګام، هسکه مېنه او سپین غر ولسوالیو کې د شاوخوا ۱۱ زره او ۹۱۰ هکتاره په مساحت د جلغوزیو طبیعي ځنګلونه شتون لري.
نوموړي زیاته کړې، چې د ترسره شویو ارزونو له مخې، تمه ده ، چې سږ کال به له دغو ځنګلونو څخه ۱۴۰ متریک ټنه خالص جلغوزي راټول شي، په داسې حال کې ...

۲مخ

بهرني لنډ خبرونه

غزه؛ د صهیونیستي رژیم په برید کې دوه فلسطینیان شهیدان شوي

د غزې روغتیایي چارواکو ویلي، چې په غزه کې د اسرائیلي رژیم د هوایي برید له امله لږ تر لږه دوه فلسطینیان شهیدان شوي دي.
د رویټرز د راپور له مخې، دغه برید د غزې ښار په مرکزي برخه کې د خلکو یوه ډله په نښه کړې ده.
په دې برید کې د دوو شهیدانو ترڅنګ، څو نور کسان هم ټپیان شوي دي. بل‌خوا، یو څلور میاشتنی ناروغ ماشوم وروسته له هغې ژوند له لاسه ورکړی، چې د اسرائیلي رژیم عسکرو روغتون ته د هغه د ژر لېږد مخه ونیوله. الجزیرې خبري شبکې راپور ورکړی، چې دغه پېښه د اشغال شوې لوېدیځې غاړې په رام‌الله کې د اسرائیلي رژیم د تلاشۍ په یوه پوسته کې رامنځته شوې ده.
د راپور له مخې، د صهیونیستي رژیم عسکرو پر خلکو اوښکې بهوونکی ګاز هم کارولی دی.

وینزویلا؛ د زلزلو د قربانیانو شمېر له ۳۳۰۰ څخه واوښت

د راپورونو له مخې، د وینزویلا د اطلاعاتو وزارت ویلي، چې په دغه هېواد کې د وروستیو زلزلو د قربانیانو شمېر درې زره او ۳۴۲ ته لوړ شوی دی. رویټرز د وینزویلا د اطلاعاتو وزارت له قوله راپور ورکړی، چې په دغو زلزلو کې ۱۶ زره او ۴۷۰ کسان ټپیان شوي او د بې‌ځایه شوو شمېر هم ۱۷ زره او ۳۴۵ ته رسېدلی دی. له دې مخکې، د وینزویلا حکومت ویلي وو، چې د زلزله ځپلو سیمو د بیارغونې لپاره به د پیسو نړیوال صندوق او نړیوال بانک له دغه هېواد سره مالي او اعتباري مرستې وکړي.
د وینزویلا چارواکو همدارنګه د پیسو نړیوال صندوق په همکارۍ د ۲۰۰ میلیون ډالرو په ارزښت د بیارغونې صندوق د جوړېدو خبر ورکړی او ویلي یې دي چې د لټون او ژغورنې عملیات لا هم روان دي. د امریکا د ځمکې پېژندنې ادارې اټکل کړی و، چې د دغو زلزلو د قربانیانو شمېر ښايي له لسو زرو واوړي. که دغه اټکل سم ثابت شي، دا به د تېرې یوې پېړۍ په ترڅ کې په لاتینې امریکا کې له تر ټولو مرګونو زلزلو څخه وي. د یادونې ده، د امریکا د ځمکې پېژندنې ادارې د راپور له مخې، د تېرې چهارشنبې په ماښام (د چنګاښ درېیمه) لومړۍ د ریښتر په کچه د ۷.۲ درجې زلزله د کاراکاس ښار لوېدیځ ته شاوخوا ۱۶۰ کیلومتره لرې وشوه او وروسته تر یوې دقیقې په کمه موده کې د ۷.۵ درجې یوې بلې زلزلې هم دغه سیمه ولړزوله.

تاریخي ازموینه؛ چین له اوبتل څخه د بالستیک توغندی وتوغوه

د چین دولتي رسنیو راپور ورکړی، چې دغه هېواد د لومړي ځل لپاره له ۱۹۸۲ کال وروسته له اوبتل څخه د بالستیک توغندي بریالۍ ازموینه ترسره کړې ده. د راپور له مخې، توغندی د ارام سمندر له نړیوالو اوبو څخه د ازمایښتي سرګلولې (Dummy Warhead) په لرلو توغول شوی او خپل ټاکلی هدف یې په لوړ دقت ویشتی دی.
پوځي شنونکي اټکل کوي، چې دغه توغندی له ۱۲ زره کیلومترو څخه زیات واټن وهي او د څو خپلواکو هدفي سرګلولو (MIRVs) د لېږد وړتیا هم لري. ویل کېږي، دې ازموینې د چین د اوبتلونو د توغولو پرمختللي سیستمونه، د اوږد واټن هدایت، قومانده او کنټرول او د جګړې لوړ چمتووالی هم ښودلی. د چین چارواکو ویلي، چې دا ازموینه د عادي پوځي روزنې برخه وه او له ترسره کېدو مخکې یې نړیوالو ته خبر ورکړل شوی و.